# د مورفولوژي اړيکې د ګرامر له نورو څانګو سره

# The relationship of Morphology with other branches of Grammar

Rahmanullah Qani*

**Abstract:**

The scientific analysis of the structure of the language is called grammar, of which morphology is an important and basic part, and Pashto grammar has a very deep relationship with other basic branches (phonology and syntax) and can be called the connection chain, as well as Linguistics has an inseparable relationship with other branches such as lexicology, etymology and semantics, but it also has special lines of difference with each section.

Phonology provides the raw material for morphology, clarifying its characteristics and leading to morphological interactions. So phonology cannot develop without morphology and morphology cannot develop without phonology.

Morphology then provides the raw material for syntax, clarifying its function and setting the stage for syntactic interactions. Therefore, morphology cannot develop without syntax, and syntax cannot be created without morphology. Since morphology deals with morphemes, it is closely related to other parts of linguistics such as lexicology, etymology and semantics.

**Keywords:** Pashto grammar, main branches of grammar, morphology and lexicology, relationship between morphology and phonology, difference between syntax and morphology.

مورفولوژي د ګرامر يوه مهمه او لويه برخه ده چې له دې پرته د ژبې ګرامري څېړنه ناشونې ده، ځکه دا د ژبې د کوچنيو لفظي واحدونو د جوړښت پوهه ده. يعنې مورفولوژي هغه علم دے چې له مورفيمونو څخه بحث کوي.

مورفولوژي (Morphology) د يوناني ژبې اصطلاح ده چې له دوو کلمو مورف (Morph) او لوژي (Logy) څخه رغېدلې ده؛ مورف په يوناني ژبه کښې د شکل، فورم او صورت او لوژي

* Assistant Professor, University of Education Kabul, Afghanistan

د علم، پوهې او پېژندنې معنا لري، په لغوي لحاظ دا کلمه د يوې ژبې د لفظي اشکالو د علم، پوهې او پېژندنې په معنا راغلې ده.
مورفولوژي د ژبپوهنيزې علمي نومونې په توګه يوه عمومي اصطلاح ګڼل شوي او په ډېرو ژبو کښې کارول کېږي، يعنې په ژبني مسلک کښې مروج ده او د ګرامر پوهانو پاملرنه ورته زياته ده، چې د ځينو ژبو ويونکي يې په نورو نومونو هم يادوي، په پښتو ژبه کښې يې ځينې ليکوال د (ګړپوهنه يا ګړپوهه) په نوم يادوي او ځينې ورته مورفيم پوهنه هم وايي، ځکه چې له مورفيم څخه بحث کوي. عربي ژبه کښې يې صرف بولي، پارسي کښې يې (واژک شناسي) بولي، خو په پښتو ژبه کښې ډېرے پوهان د مورلوژي يا صرف اصطلاح کاروي.
دا د ګرامر د يوې مهمې او اساسي څانګې په توګه د ژبپوهنې او ګرامر له نورو برخو سره نژدې اړيکې لري، خو دا چې هره برخه ځانګړې دنده او خپل حدود لري، نو ځکه يې توپير هم شته چې د دې مقالې په لوستلو سره به لوستکي د ګرامر له نورو څانګو سره د مورفولوژي اړيکي او توپير وپېژني.
د دې څېړنې ارزښت په دې کښې دے چې د مورفولوژي اړيکي د ګرامر له نورو څانګو سره څرګندوي او هم د ګرامري څانګو خپلمنځي توپيرونه پکښې ښودل شوي، همداراز د دې څېړنې موخه دا وه چې د ګرامر د څانګو نژديکت او بېلښت څرګند شي او هم د ژبې ګرامري باريکيو ته د څېړونکو پام ور واوړي، تر څو د پښتو ژبې شته ستونزې حل او د لوستونکو پوښتنې ځواب شي.

## د مورفولوژي اړيکې د ګرامر له نورو څانګو سره

ګرامر د تشريحي ژبپوهنې يوه مهمه څانګه ده چې د ژبې د جوړښت نظامونه تشريح کوي. پوهاند خويشکي د ګرامر په اړه وايي: ګرامر د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د ژبې مورفولوژيکي (صرفي) او نحوي (سينټکسي) جوړښت تر څېړنې لاندې نيسي، يعنې د يوې ژبې د لغاتو د تغيير شکلونه، د هغوي ترکيب، د جملو جوړښت او څرنګوالے مطالعه او تشريح کوي.([1])
له پورتنۍ پېژندنې څخه څرګندېږي چې ګرامر د يوې ژبې د رغونې او جوړښت سيستم تر مطالعې لاندې نيسي چې په مورفولوژي او نحوه کښې سپړل کېږي، خو نوموړے د ګرامر

څانگې پنځه ښيي: ۱– فونولوژي ۲– مورفولوژي ۳– سينتېکس ۴ – مورفو- فونېميکس [ د فونيم د بدلون نظام] ۵– سيمانتکس [معناپوهه].

ډېرو گرامر ليکوونکو د گرامر څانگې درې يا دوې ښودلې، چې اصل کښې دوې څانگې (مورفولوژي او نحو) د گرامر اساسي څانگې دي، چې د گرامر د تعريف او څانگړنو له مخې يوازې په همدې دوو برخو کښې دا ځانگړنې تطبيقېږي، ځکه چې اړوند برخې گرداني تغيير لري او په نورو کښې دا ډول گردان نه ليدل کېږي او فونولوژي يې له دې امله د گرامر برخه گڼل شوې، چې گرامر ته لومړني مواد برابروي، ځکه خو ارواښاد خيال بخاري د گرامر بل نوم صرف او نحو گڼي او په دې اړه وايي:

"د ژبو د قاعدو دپاره بالعموم د (قواعد)، (گريمر) او (صرف او نحو) نومونه استعمالېږي. او مونږ هم په دې مضمون [د پښتو صرف و نحو] کښې په ځينو ځايونو کښې (قواعد)، په ځينې ځايونو کښې (گريمر) او په ځينې ځايونو کښې د صرف او د نحو نومونه استعمال کړې دي." (2)

"هغه بدلون چې د ژبو په فونيمونو (غږونو) کښې منځ ته راځي، هغه د غږيز (فونولوژيک) بدلون او تغيير تر سرليک لاندې څېړل کېږي او هغه بدلون چې د يوې ژبې په صرفي او نحوي نظام کښې پېښېږي، هغه د گرامري بدلون په نامه يادېږي او په همدې ډول د زمانې په تېرېدو سره د ژبې د لغتونو په ماناوو کښې هم بدلون منځته راځي، چې ژبپوهنه کښې دا ډول بدلون د معنايېز بدلون تر سرليک لاندې څېړل کېږي." (3)

په گرامري څېړنو کښې ژبه د قوانينو تابع نه گرځي، بلکې گرامر د هغې ژبې قواعد څرنگه چې خلک ورباندې خبرې کوي تشريح کوي.

مورفولوژي او نحو د گرامر هغه دوه اساسي برخې دي، چې په مورفولوژي (صرف) کښې د يوې ژبې ټاکلي مورفيمونه، د هغوي جوړښت، شکلونه، گردان، ډولونه او د مورفيم اړوندې برخې تر څېړنې لاندې نيول کېږي او په نحوه کښې د جملو جوړښت، ترکيب، عبارت او جملې اړوند نور موضوعات تر بحث لاندې راځي.

جوته ده چې د يوې ژبې په څېړنه کښې لومړے د هغې ژبې د غږونو او فونيمونو څېړل او تشريح کول لازمي او ضروري دي، خو بيا هم صوتي او غږيزې څېړنې که هر څومره مفصلې وي، د معنا او مفهوم په باب څه نشي څرگندولے، دا ځکه چې فونيمونه له معنا سره کومه نېغه اړيکه نه لري او يوازې داسې واحدونه او صوتي توکي دي چې لفظي واحدونه يا مورفيمونه ورڅخه تشکيل شوي او جوړيدے شي.

د ژبې د پوره او کره تشریح لپاره د معنادارو عناصرو یا مورفیمونو څېړل هم اړین دي. دا د ژبې د جوړښت دویم نظام دے چې د پښتو ګرامر د بحث دویمه برخه تشکیلوي.
د ژبې د جوړښت هر نظام ځانته بېلابېل قواعد لري، چې د همدغو قاعدو په رڼا کښې تشریح کېږي. د ګرامر د برخو تر منځ منطقي او سیستماتیک تړاو موجود وي، په ځانګړې ډول مورفولوژي د خپلې څېړنې په وخت کښې د ګرامر له نورو څانګو ( فونولوژي او نحو) سره سمې اړیکې لري، ځکه د ژبې مورفولوژیکي جوړښتونه له فونیمونو څخه جوړېږي او د نحوي نظام لپاره مواد برابروي، نو د دوي تر منځ ځانګړې او ټاکلې دنده لري.
د ګرامر د څانګو د ویشنې او ډولونو په اړه دلته نور بحث ځکه نه کوو چې له اصل موضوع څخه لیرې کېږو، خو لاندې یوازې د ګرامر د اساسي او مهمې څانګې (مورفولوژي) اړیکې او بېلتون د ګرامر له اساسي څانګو او هغو برخو سره څرګندوو چې ځینو پوهانو د ګرامر څانګې ګڼلي او یا یې په ګرامري برخه کښې تشریح کوي.

## د فونولوژي او مورفولوژي اړیکې:

فونولوژي هغه علم دے چې د یوې ژبې ارزښتناک غږونه (فونیمونه) تر څېړنې لاندې نیسي. په فونولوژي کښې د ګرامر د مقدمې په توګه هر راز ژبني غږونه (فونیمونه) تر څېړنې لاندې نیول کېږي.
ژبپوهان وایي که چېرې فونیم نه وي، مورفیم نه موجودېږي او که چېرې مورفیم نه وي؛ نو جمله نه رغېږي. همدا علت دے چې ارزښت لرونکے غږ په ژبه کښې د زیات اهمیت وړ دے. یعنې که ژبنۍ څېړنې کوو او فونیم ونه څېړل شي، نورو څېړنو ته لاره نه هوارېږي او که نورې څېړنې ونشي، نو ژبه د ورکېدو له ګواښ سره مخ کېدلے شي. همداراز د نورو ګرامري څېړنو د لارې هوارولو او د یوه ارتباطي پول د جوړولو لپاره اړینه ده چې د یوې ژبې فونیمونه وڅېړل شي. که چېرې مونږ ته فونیمونه معلوم نه وي او د دوي دندې ونه پېژنو، نو نشو کولے چې د مورفولوژي پر جوړښت او ساختمان باندې وغږېږو.
مورفولوژي د ګرامر بنسټیزه برخه ده چې په دې برخه کښې د یوې ژبې ټاکلي مورفیمونه، د هغوي جوړښت، ترکیب، ګردان او ډولونه تر بحث لاندې راځي.

لکه څرنګه چې فونيم او مورفيم له يو بل سره نه شلېدونکي اړيکې لري، همدا شان فونولوژي او مورفولوژي هم يو له بل سره ژورې اړيکې لري. د نورې اساتيدا او ژر زده کړې په موخه به دا اړيکې په څو شمارو کښې وښايو:

۱ - فونيم د مورفيم لپاره خام مواد دي، که دغه خام مواد نه وي؛ نو معنادار توکي (مورفيمونه) نه شي جوړېدلے. همدا لامل دے چې فونولوژيکي څېړنې او ليکنې د مورفولوژيکي څېړنو او ليکنو لپاره لار هواروي.

۲ - فونولوژي د ارزښتناکو غږونو دندې روښانه کوي، چې دا چاره د يوه مورفيم په جوړېدا او اوړون کښې له مورفولوژي سره مرسته کوي.

۳ - فونولوژي په څېړنيز ډول د مورفولوژي جز او مورفولوژي يې ورپسې کُل دے.

۴ - فونولوژي د غږونو خواص څېړي او د همدغې خواصو په نظر کښې نيولو سره مورفولوژي مورفيمونه څېړي او يا د مورفيمونو ساختار رامنځته کوي.

۵ - فونولوژي د تشريحي ژبپوهنې د اساسي برخې په توګه د مورفولوژي لپاره بنسټ دے.

فونولوژي بې له مورفولوژي پرمختګ نه شي کولے او مورفولوژي پرته له فونولوژي نه شي رامنځته کېدلے. (4)

فونولوژي د مورفولوژي لپاره د خامو موادو شننه کوي، خاصيت يې روښانه کوي او د مورفولوژيکي تعاملاتو لپاره لاره هواروي. نو فونولوژي بې له مورفولوژي پرمختګ نه شي کولے او مورفولوژي پرته له فونولوژي رامنځته کېدے نه شي.

مورفولوژي د ګرامر د يوې مهمې برخې په توګه مرسته کوي چې د ژبڅېړنې بل مهم منزل ته پرې ورسېږو.

## د مورفولوژي او نحوي اړيکې:

نحو د ګرامر د مهمې او اساسي برخې په توګه د يوې ژبې د جملو، عبارتونو او ترکيبونو، جوړښت، ترتيب، تنظيم او ډولونه تر بحث لاندې نيسي.

مورفولوژي او سينټېکس د خپلو ځانګړو اصطلاحګانو او خصوصياتو په درلودلو سره په تيوريکي لحاظ که له يوې خوا سره بېل دي نو له بلې خوا يو تر بله اړيکې هم لري.

همدارنګه مورفيم او جمله بېل بېل مفاهم لېږدوي، خو بيا هم يو له بل سره نه شلېدونکې اړيکې لري، ځکه چې له مورفيمونو څخه جملې جوړېږي؛ نو مورفولوژي او جمله پوهنه يو له بل سره ژورې اړيکې لري.

مورفيم د وينا لپاره اړين او خام مواد دي، که چېرې خام مواد نه وي، هيڅکله بامفهومه وينا نه شو کولی او نه هم د ژبې نحوي جوړښت رامنځته کولی شو.

فونيم د فونيم پوهنې (Phonology) واحد يا نه تجزيه کېدونکي صوتي غړي په توګه، خو مورفيم د مورفيم پوهنې (Morphology) يا نه تجزيه کېدونکي لفظي واحد په توګه او غونډله (جمله) د غونډله پوهې (syntax) د اساسي واحد په توګه يادېږي، چې يو د بل د پرمختګ او پايښت لپاره د زينې مثال لري.

د اساتيا او ښې زده کړې په موخه دغه اړيکې په څو شمارو کښې مشخصوو:

۱ – مورفيم د جملې لپاره خام مواد دي، که چېرې خام مواد نه وي، نو نور مفهوم لرونکي جوړښتونه نه شي جوړېدلی، نو مورفولوژيکي څېړنې او ليکنې د نحوي څېړنو او ليکنو لپاره لار هواروي.

۲ – مورفولوژي د ګرامري او لغوي توکو دندې روښانوي او هم يې څېړنه کوي چې دا چاره د يوې جملې په جوړېدا او اړون کښې له نحوي څېړنو سره مرسته کوي.

۳ – مورفولوژي په څېړنيز ډول د غونډله پوهې جز او نحوي جوړښتونه يې کُل دي.

۴ – مورفولوژي د معانيزو توکو خواص څېړي او د همدغو خواصو په نظر کښې نيولو سره نحوه غونډله يا غونډلې څېړي او يا نحوي جوړښتونه رامنځته کېږي.

۵ – له مورفولوژي پرته نحوه نشي رامنځته کېدلی او نه هم د پرمختګ لاره هوارېږي. يعنې بغير له مورفيمه جمله نه جوړېږي او مورفولوژي له نحوې پرته پرمختګ نه شي کولی.

ويلی شو چې فونولوژي د مورفولوژي لپاره د خامو موادو شننه کوي او مورفولوژي بيا د غونډله پوهې لپاره د خامو موادو شننه او دنده روښانوي او د نحوي تعاملاتو لپاره لاره هواروي. نو مورفولوژي له نحوې څخه بغير پرمختګ نه شي کولی او نحوه له مورفولوژي پرته نه شي رامنځته کېدلی. (5)

يا د جملې د جوړېدو لپاره مورفيم اړين توکی دی او د مورفيم لپاره اساسي مواد بيا غړونه دي. څرنګه چې فونيم، مورفيم او جمله سره نه شلېدونکې اړيکې لري، همدغسې يې پوهنې (فونولوژي، مورفولوژي او سنټيکس) هم له يو بل سره ژورې ريښې لري.

فونولوژي د هغو غږونو دندې څرګندوي چې معنا ییز ارزښت ولري. مورفولوژي د لغوي یا ګرامري معنالرونکو لفظي واحدونو دندې روښانه کوي، چې دا چاره د یوې غونډلې په جوړېدو او اوړون کښې له نحوي څېړنو سره مرسته کوي.

له فونولوژي پرته، مورفولوژي نه شي رامنځته کېدلے او له مورفولوژي پرته نحوه نه شي رامنځته کېدلے او په ټوله کښې دغه اړیکې یو ځانګړے ژبني نظام رامنځته کوي چې د ژبې د ګرامر په نوم یادېږي.

استاد ځولیزي په خپل اثر (عمومي ژبپوهنه) کښې د مورفولوژي اړیکې له ډېرو څانګو سره نژدې ګڼي او په دې اړه لیکي:

دا چې د ګړپوهنې (مورفولوژي) سروکار له ګړونو (مورفیمونو) سره دے، نو په ټوله کښې د ژبپوهنې له اوازپوهنې، ویيپوهنې، غونډله پوهې (نحوې) او مانا پوهې (سیمانټیک) سره هم نږدې اړیکې لري.

مورفولوژي خو ځکه د ګرامر له نورو څانګو سره نژدې او اساسي اړیکې لري، چې دا د ګرامر مهمه او اساسي برخه ده او د ګرامر د نورو برخو لپاره یې د اتصال کړۍ ګڼلے شو.

نو ویلے شو چې مورفولوژي او سنټکس د خپلو ځانګړو اصطلاحاتو او خصوصیاتو په درلودلو سره په تیوریکي لحاظ که له یوې خوا سره بېل دي، نو له بلې خوا یو تر بله اړیکې هم لري. سربېره پر دې هغه معنا لرونکي عناصر او لفظي واحدونه چې عبارتونه او جملې جوړوي په واقعیت کښې همدغه مورفیمونه دي چې د یوې ژبې په ګرامري جوړښت کښې ستره ونډه لري. بله دا چې د نحوي واحدونو تجزیه، ترکیب او ترتیب د ګرامر په نورو برخو (مورفولوژي، اشتقاق پوهنه او لغت پوهنه) هم تر څېړنې لاندې نیول کېږي. خو د نحوي سیستم په ډول لفظي واحدونه په یوازې ډول بشپړ مفهوم نشي افاده کولے. د ګرامري پوهنو تر منځ ځینې مشابهتونه او ورته والے لیدل کېږي، خو هره پوهنه د خپلې تیورۍ د اساساتو له مخې موضوع څېړي، نو ځکه د نژدېوالي سره سره د موضوعاتو بېلوالے هم لري. یعنې په نحوه کښې یوازې د جملو ترکیب، تجزیه، جوړښت او د جوړښت سیستم مطالعه کېږي او په مورفیم پوهنه او اشتقاق پوهنه کښې لفظي جوړښتونه په نظر کښې وي. (6)

که په نحوه کښې د جملې معنا ته زیات ارزښت ورکول کېږي، دا په دې معنا هم نه ده چې لفظ دې له پامه وغورځول شي. د ژبې په ګرامري مطالعه کښې د الفاظو معنا او لفظي جوړښت دواړه د پام وړ دي. یعنې څنګه چې الفاظ د مفاهیمو د بیان لپاره کارول کېږي؛ نو

که چېرې د لفظ مفهوم په ګرامري شرحه کښې له نظره وغورځول شي، ګرامري شرحه د بې معنا غږونو په شرحه بدلېږي او که چېرې يوازې مفهوم شرحه شي او نور بدلونونه او لفظي ځانګړتياوې له نظره وغورځول شي؛ نو څنګه چې د مفاهيمو بدلون او تغيير د کلمو د لفظي او اشتقاقي تغييرونو معلول دي، نو په دې توګه له علت پرته او يا له معلول پرته څه نتيجه نه تر لاسه کېږي.
دا چې په ژبه کښې د ګرامري ځانګو موضوعګانې سره بېلې دي، نو ځکه جلا جلا او هره برخه بېل اصول او قواعد لري او د همدې له مخې څېړل کېږي. هغه څه چې په فونولوژي پورې اړه لري، په فونولوژي کښې دې تشريح شي او دا حدود دې معلوم شي. همدارنګه هغه څه چې د مورفولوژي برخې پورې اړوند دي، هغه دې د همدغې برخې لاندې راشي او په هغه واحدونو دې څېړنه وشي چې د مورفولوژي د بحث موضوع وي.
غږيزې (صوتي) نښې، لفظي نښې جوړوي، يعنې د غږيزو نښو له ترکيب څخه لفظي نښې رامنځته کېږي او له همدغو لفظي نښو او مورفيمونو څخه يوازې، يا يو له بل سره د يو ځاے کېدو په نتيجه کښې د ژبې نحوي علامې او نښې نښانې راڅرګندېږي او يو مفهوم ورکوي.

## د مورفولوژي او ويېپوهنې اړيکې او توپير

ځينې ليکوال د مورفولوژي او ويېپوهنې توپير ته نه متوجه کېږي او دواړو ته په يو نظر ګوري، په داسې حال کښې چې دا دواړه د ژبپوهنې او يا د ځينو پوهانو په اند د ګرامر بېلې بېلې برخې دي، څرنګه چې مورفولوژي له فونولوژي او نحوې څخه بېلېږي، په همدې شکل مورفولوژي له ويېپوهنې (لغتپوهنې) سره هم توپير لري. مګر مورفولوژي چې له فونولوژي او نحوې سره کوم ډول اړيکې لري، له دې زياتې اړيکې له ويېپوهنې سره لري، خو دا هم سمه نه ده لکه يو شمېر ليکوونکي چې مورفولوژي ته د ويېپوهنې نوم ورکوي، ځکه دا دواړه سره هم جوت توپير لري.
مورفولوژي له مورفيم څخه بحث کوي او مورفيم د يو ژبې تر ټولو کوچنے لفظي واحد دے چې لغوي يا ګرامري معنا لري، مګر ويېپوهنه له ويي څخه بحث کوي، چې ويي يا کلمه يو رواني واحد دے او لغوي معنا لري. د رواني واحد معنا دا چې زموږ په ذهن کښې يو

ځانګړے تصویر شته او د همدې تصویر په مقابل کښې یو ځانګړے نوم لري چې ویې ورته وايي.

که لږ یې نور هم تشریح کړو او د مورفولوژي دندو ته ځیر شو، نو پوهېږو چې مورفولوژي یوازې له مورفیمونو څخه بحث کوي او مورفیم په خپلواکو او ناخپلواکو مورفیمونو ویشل کېږي، چې خپلواک مورفیم ته ویي یا کلمه ویل کېدے شي، خو ناخپلواک مورفیم ته ویي نه شو ویلے، ځکه خو ویپوهنه او مورفولوژي سره توپیر لري، خو یو شمېر لیکونکو دې توپیر ته پام نه دے کړے.

ښه دا ده چې کله د مورفولوژي بحث راځي، هلته باید د مورفیم لفظ یاد شي، نه د ویي، ځکه ویپوهنه او مورفولوژي دوې جلا څانګې دي.

کومو ګرامر لیکوونکو چې د ګرامر څانګې له درېو زیاتې ښوولې دي، نو تر فونولوژي، مورفولوژي او نحوې وروسته یې د ګرامر څلورمه څانګه ویپوهنه لیکلې ده او ځینو بیا د مورفولوژي دننه د نوم ګردان او فعل ګردان سره په یو لړ کښې راوړې دي.

استاد کډوال د پوهاند زیار په حواله د ویپوهنې د ارزښت او ځانګړتوب په اړه لیکي:

"نن سبا ویپوهنه دومره غځېدلې راغځېدلې چې سیند کښنه (فرهنګ نویسي، لیکزیوګرافي) یې هم نوره په ججوره کښې نه ځایږي او د ډېرو ډولونو او لارو رودو سره د یوې جلا څانګې په توګه څېړل کېږي، آرپوهه (ایتمولوجي) خو لا وار له مخه د یوې خپلواکې پوهنې په توګه پېژندل شوې ده." (7)

دا چې د دې دواړو څانګو توپیر ښه واضیح شي، لاندې د هر یو پېژندنه او بېلابېل بحثونه راوړو:

مورفولوژي کښې پر خپلواکو او بېواکو مورفیمونو باندې بحث کېږي، مګر په لغتپوهنه کښې په نیولوګیزم، مستعارو لغتونو، ارخایزم، متروکو لغتونو، مترادف، متشابه او متضادو لغتونو... باندې بحث کېږي. لغت د ژبې هغه واحد دے چې موجود څیز یا پېښه ورباندې نومول کېږي.

د لغت په برخه کښې داسې هم ویل کېږي چې لغت د ژبې خپلواک واحد دے. یا دا چې په ژبه کښې له مورفیم څخه زیاته خپلواکي لري. د لغت د خپلواکۍ ډېره لوړه درجه نحوي درجه ګڼل شوې ده.

دلته د لغت هغه درجه ښودل کېږي، کوم چې لغت په ځانګړي ډول دا وړتيا لري، چې د ټولې جملې په ځاے راشي، همداراز لغت د جملې ارکان لکه مسنداليه او مسند جوړولے شي، د بېلګې په ډول که وويل شي: احمد خط ليکي؟ ځواب يې يوازې په (هو) او (نه) هم ورکول کېدے شي. يعنې لغت د ژبې ډېر وړوکے نسبتاً خپلواک معنا لرونکے واحد دے. (8)

استاد غوربندے له پورتني بحث څخه لړ څه وروسته ليکي: لغت د ژبې ډېر کوچنے معنا لرونکے واحد دے، چې په وينا کښې د مفاهيمو جوړولو لپاره خپلواک دريځ لري. د لغت کوچنے واحد مورفيم او لوے واحد جمله ده. لغت يو غږيز ترکيب دے، چې مفهوم وربانديې افاده کېږي. لغت په نورو معنا لرونکو واحدونو تجزيه کېږي، مګر مورفيم په نورو معنا لرونکو واحدونو نه تجزيه کېږي، هر لغت درې مهمې ځانګړنې لري:

۱ – هر لغت له هغو پديدو سره اړيکې لري، کوم چې زموږ په چاپېريال کښې شتون لري.

۲ – هر لغت زموږ د فکر، حس او غوښتنو سره اړيکې لري.

۳ – هر لغت د ژبې د نورو لغتونو سره اړيکې لري.

مورفيم په ګرامري لحاظ د تجزيه وړ نه دے، يا هره کلمه مورفيم نه وي او هر مورفيم ته کلمه نه شو ويلے، بلکې يوازې بسيطو کلمو ته مورفيم ويلے شو لکه: ښار، ورور، کتاب، بڼ، لوبه... دا ساده او بسيطې کلمې دي، چې د تجزيې وړ نه دي، نو مورفيم هم ورته وايي، مګر ښارګوټے، ورونه، کتابونه، ښوال، لوبغالے... ځانګړې کلمې دي، خو د مورفيم پېژندنې له مخې له دوو مورفيمونو (خپلواک او ناخپلواک) څخه جوړ شوي دي او يو مورفيم ورته نشو ويلے.

يا هم د (ښار) مورفيم يو معنا لرونکے او نه تجزيه کېدونکے لفظي واحد دے، ځکه ورته کلمه هم ويلے شو؛ مګر دا چې (ګوټے) هم يو لفظي واحد او ګرامري معنا لرونکے مورفيم دے، خو دا چې مستقل او خپلواک نه دے، نو کلمه ورته نه شو ويلے.

د دواړو توپير داسې هم کولے شو چې مورفيم به يا لغوي معنا لري او يا هم ګرامري معنا، خو د کلمې لپاره لغوي او ګرامري دواړه معناګانې مهمې دي. کوم مورفيم چې د ګرامري معنا درلودنکے دے هغه د خپلې معنا د څرګندولو لپاره بل لغوي مورفيم ته اړتيا لري او کلمه بيا دا ضرورت نه لري.

همداراز په وينا او ليکنه کښې هغه څه چې موږ يې د يو ويي يا کلمې په بڼه کاروو، ښايي له دوه، درې يا څو کوچنيو توکونو څخه رغېدلې وي، چې د يادې کلمې اصلي او فرعي برخې يې ګڼلے شو او د مورفولوژي له مخې ورته د مورفيم اصطلاح کارېږي لکه: د ناروغتياوې کلمه چې له

ځلورو مورفیمونو (نا+روغ+ تیا+وې) څخه جوړه ده. په دې کښې (روغ) یې خپلواک مورفیم دے چې کلمه یا لغت هم ورته ویلے شو، مګر پاتې درې برخې ناخپلواک مورفیمونه دي، چې لغت یا کلمه ورته نه شو ویلے، ځکه چې لغوي معنا نه لري.

د بدلون په لحاظ لغتونه په فعال او غیر فعال ویشل کېږي، چې ډېر کارېدونکي لغتونه یې په فعالو کښې او کم کارېدونکي او مړه لغتونه یې په غیرو فعالو کښې راځي، مورفیمونه هم په ورته ډول وېشلے شو: چې فعال مورفیمونه یې خپل فعالیت زیاتوي، لکه په اوس وختونو کښې چې د (تون، مل، من، ور) روستاړو په ملتیا د (درملتون، وړکتون، زیږنتون، پوهنمل، ولسمل، څېړنمل، برېدمن، ښادمن، بختور، ښکرور...) لغتونو جوړ شوي، چې د دې روستاړو فعالیت او کارېدنه شوي، نو ځکه یې په فعالو مورفیمونو کښې راوړل شو او ځینې نور مورفیمونه یې بیا له فعالیت څخه لوېږي.

د پښتو ژبې هر لغت یا له یوه مورفیم څخه، یا له دوو او یا له ډېرو مورفیمونو څخه جوړ شوي دي او په مورفیمونو باندې د لغت تجزیه کول کوم تصادفي کار نه دے، بلکې هغه د یوه ژبني قانون له مخې په بېلابېلو مورفیمونو باندې ویشل کېږي او که په څو لغتونو کښې کومه معنا لرونکي برخه شریکه وي، نو دغې معنا لرونکي برخې ته مورفیم ویل کېږي.

دوکتور دولت محمد لودین چې د لغت پوهنې په نوم یې ځانګړے اثر هم لیکلے، نوموړے (د عمومي ژبپوهنې مسایل) اثر کښې د لغت معنا او لغوي معناوو ډولونه تر عنوان لاندې لیکي:

په ژبه کښې هر لغت له لغوي معنا پرته نورې خواوې هم لري، چې په پاے کښې لغت د لغوي معنا درلودنکے شوے دے. د لغت نورې خواوې دا دي:

۱ – د لغت غږیزه خوا: په دې کښې د هماغه لغت ټول غږونه چې ټاکلے لغت ورڅخه جوړ شوے دے راځي.

۲ – د لغت مورفولوجیکي خوا: په دې کښې د لغت ټول معنا درلودونکي برخې راځي، چې د مورفیم په نوم یادېږي. کله چې د ژبې د هر لغت غږیز او مورفولوجیکي اړخونه بشپړ شوي اوسي، نو بیا یې معنا تر کتنې او پاملرنې لاندې نیول کېږي، له دې څخه څرګنده شوه چې هر لغت دغه درې اړخونه لري:

۱ – د لغت غږیز جوړښت

۲ – د لغت مورفولوجېکي یا صرفي بڼه

۳ - د لغت لغوي معنا ([9])

له پورته ليکنې څرګندېږي چې لغت مختلف اړخونه لري، چې يوازې لغوي معنا يې د لغتپوهنې بحث دے او دا هله تر څېړنې لاندې نيول کېږي، کله چې د لغت غړيز او مورفولوژيکي اړخونه بشپړ شي. همدارنګه که لغت په غړونو تجزيه کېږي، نو بيا د لغت غړيزه برخه څېړل د ګرامر د بلې څانګې (غړپوهنې) کار دے او مورفيم هم د مورفولوژي د بحث موضوع ده.

## اشتقاق پوهنه او مورفولوژي:

اشتقاق پوهنه (Etymology) د ژبپوهنې يوه مهمه برخه ده چې په هغې کښې د بېلابېلو لغتونو او مورفيمونو پيدا ايښت او تاريخ څېړل کېږي. د اشتقاق پوهنې وظيفه ده چې د لغاتو لرغونې بڼې او معناوې راوسپړي او توضيح يې کړي.

پروفيسور ب. ن. ګله وين (B.N.Galawin) د اشتقاق پوهنې په اړه ليکي: د ژبپوهنې هغه برخه چې د لغاتو د راوتلو حقيقت تر څېړنې لاندې نيسي، د اشتقاق پوهنې يا ايتمالوجې په نوم يادېږي.

يو بل ليکوال (Etymology) په آرپوهه (ريښه پېژندنه) راژباړي او په دې اړه ليکي: آرپوهه د ژبپوهنې يوه برخه ده، چې د ويونو ريښې او تاريخي تحول څېړي. په انګرېزي کښې ورته اېټېمولوژي (Etymology) وايي. دغه کلمه د يوناني له (Etymon) څخه اخيستل شوې، چې مفهوم يې واقعي مانا ده؛ نو ويلے شو چې د اېټېمولوژۍ لغوي معنا د واقعي معنا پېژندنه ده. که څه هم د اېټېمولوژي اصطلاحي مفهوم په انګريزي کښې ريښه پېژندنه ده، چې په دې پوهه کښې په تحولي برخه کښې د کلمو زوکړه، وده او له منځه تلل دي. ([10])

ويلے شو چې اشتقاق پوهنه د ژبپوهنې يوه مهمه څانګه ده چې د لغتونو او مورفيمونو تاريخي پس منظر، د جوړونې قاعده تر څېړنې لاندې نيسي. يا د ژبپوهنې هغه برخه ده چې په هغې کښې د لغتونو د راوتلو حقيقت، جوړښت او پيدا ايښت تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

## مورفولوژي او معناپوهنه:

معناپوهنې ته په انګليسي کښې (semantics) وايي چې موخه يې په انساني ژبو کښې د معنا مطالعه او سپړنه ده. په ټوليز ډول د ويي او معنا تر منځ د اړيکې سپړنې ته معناپوهنه

وايي. د معناپوهنې علم معمولاً د دلالت کوونکو رابطې پورې اړه لري لکه: لغت، عبارتونو، نښو او له هغو برخو سره کار لري، چې معنا د څه لپاره کارېږي. معناپوهنه د ژبپوهنې د څانګې په توګه د ژبنيو پيلامو او پيلامونو (نښو او سېمبولونو) له سپړنو او شننو سره کار لري.

کارونپوهنه او معناپوهنه دواړه له معنا سره کار لري، خو د دواړو توپير دا دے، چې کارونپوهنه د متکلم او مخاطب په نظر کښې نيولو سره معنا مطالعه کوي او معناپوهنه بيا په خپلواکه توګه د معنا مطالعه ده. يعنې معناپوهنه د يوې کلمې ساده معنا راښيي، خو کارونپوهنه بيا په يوه ځانګړي موقعيت او حالت کښې د ژبې پر استعمال راڅرخي.

په نښپوهنه کښې اساس ويي (لغت) دے، خو په معناپوهنه کښې بيا د ويي تر څنګ جمله ډېر ارزښت لري، ځکه چې کلمې په مجرد ډول معنا نشي ښندلے. موږ اړ يو چې د ويي معنا د نورو کلمو او يا جملې په منځ کښې ولټوو. په همدې اساس د ويي معنا دومره مهمه نه ده، لکه څومره چې يې کارونه مهمه ده. ويلے شو چې نښه او معنا نه يوازې د نورو علومو د پوهاوي مهم بحث دے، بلکې د معاصرې ژبپوهنې يو اساسي برخه جوړوي. ([11])

## پايله

مورفولوژي د ګرامر د يوې بنسټيزې څانګې په توګه د ګرامر له نورو څانګو (فونولوژي، نحوې، وييپوهنې، اشتقاق پوهنې، معناپوهنه...) نه شلېدونکې او نژدې اړيکې لري، ځکه چې فونولوژي د يوې ټاکلې ژبې غږيز جوړښت، ډولونه او ترتيب راسپړي. مورفولوژي د ټاکلې ژبې د مورفيمونو له ترکيب، ترتيب او د مورفيمونو له ډولونو او جوړښت څخه بحث کوي. نحوه يا سېنټېکس د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د يوې ټاکلې ژبې د عبارتونو، ترکيبونو او جملو له جوړښت او ډولونو په اړه څرګندونې لري. معنا پوهنه يا سېماټېکس د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د يوې ټاکلې ژبې د لغتونو، عبارتونو او جملو له معناوو څخه سر و کار لري، وييپوهنه د ژبې له لغتونو او کلمو څخه بحث کوي او اشتقاق پوهنه د لغتونو او مورفيمونو تاريخي پس منظر او د جوړونې قاعده تر څېړنې لاندې نيسي. يا د لغتونو د راوتلو حقيقت، جوړښت او پيدا ايښت راښيي.

فونولوژي د مورفولوژي لپاره خام مواد برابروي، خاصيت يې روښانه کوي او د مورفولوژيکي تعاملاتو لپاره لار هواروي. نو فونولوژي بې له مورفولوژي پرمختګ نه شي کولې او مورفولوژي پرته له فونولوژي رامنځته کېدے نه شي.

مورفولوژي بيا د نحوې لپاره خام مواد برابروي، دنده يې روښانوي او د نحوي تعاملاتو لپاره زمينه سازي کوي. نو مورفولوژي له نحوې څخه بغير پرمختګ نه شي کولے او نحوه له مورفولوژي پرته نه شي رامنځته کېدلے. دا چې د مورفولوژي) سروکار له مورفيمونو سره دے، نو په تړوله کښې د ژبپوهنې له نورو برخو وييپوهنې، اشتقاق پوهنې او معنا پوهې سره هم نږدې او نه شلېدونکې اړيکې لري.

# حوالې

1خویشکي، محمدصابر، پښتو غږپوهنه او وییپوهنه (فونولوژي– مورفولوژي)، پینځم چاپ، جلال کوټ، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ ل، مخ، ۵
2 بخاري، عظیم شاه خیال، د پښتو صرف و نحو، پېښور، یونیورستي بُک ایجنسي، ۱۹۴۴م، مخ، ز
3 غوربندي، میراجان، تاریخي او مقایسوي ژبپوهنه، کابل، نویسا خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ ل، مخ، ۲۷
4 محبوب، محبوب شاه، پښتو ژبدود، جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۸ ل، مخ، ۴۶
5 همدا حواله، ۱۵۱مخ.
6 ثولیزي، محمدعثمان، عمومي ژبپوهنه، کابل، جهان دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ ل، مخ، ۱۴۴
7 کډوال، شاه محود، د ژبپوهنې بنسټونه، لغمان، رهبر خپرندویه ټولنه، ۱۴۰۰ ل، مخ، ۱۲۱
8 غوربندي، میراجان، لکسیکالوژي (لغت پوهنه)، کابل، نویسا خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۸ ل، مخ، ۱۷
9 لودین، دولت محمد، د عمومي ژبپوهنې مسایل (سریزه، تدوین، سمون او اهتمام: رفیع الله نیازے)، جلالکوټ، ختیځ ادبي بهیر، ۱۳۹۵ل ل، مخ، ۵۱
10 سمون، محمدمصطفی، ادراک او مانا، کابل، سمون خپرندویه ټولنه، ۱۴۰۲ ل، مخ، ۹۰
11 همدا حواله، ۳۹مخ.

References:

1. Khowishki, Mohammad Saber, Pashto phonology and lexicology (phonology-morphology), fifth edition, Jalal Kot, Momand Publishing Society, 2010, 5 p.
2. Bukhari, Azim Shah Khayal, Pashto Grammar and Syntax, Peshawar, University Book Agency, 1944, z page
3. Ghorbandai, Mirajan, Historical and Comparative Linguistics, Kabul, Nawissa Publishing Society, 2020, 27 p.
4. Mahbub, Mahbub Shah, Pashto Language, Jalalabad, Momand Publishing Society, 2018, 46 p.
5. Same reference, 151 p.
6. Solezi, Muhammad Osman, General Linguistics, Kabul, Jahan Danesh Publishing Society, 2020, 144 p.
7. Kadwal, Shah Mahoud, Foundations of Linguistics, Laghman, Rahbar Publishing Society, 2021, 121 p.
8. Ghorbandia, Mirajan, Lexicology, Kabul, Nawissa Publishing Society, 2018, 17 p.

9. Ludin, Daulat Muhammad, Issues of General Linguistics (Introduction, Editing, Correction and Attention: Rafiullah Niazay), Jalalkot, Eastern Literary Process, 2016, 51 p.
10. Samon, Muhammad Mustafa, Perception and Meaning, Kabul, Samon Publishing Society, 2023, 90 p.
11. Same reference, 39 p.